## [کارپاڼه –وورک شیټ] د رول اداکولو لپاره سناریوګانې

[د آسانچاري لپاره یادونه: لاندینۍ سناریوګانې ځینې عمومي بېلګې دي چې په افغانستان کې په رښتیني ژوند کې پېښېږي – یا ښایي پېښې نه شي. تمه مه کوئ چې دا سناریوګانې د له هغو شرایطو/ځای سره اړخ ولګوي چېرته چې تاسو دا روزونه پر مخ وړئ. د لوړپوړي همکار په مرسته دا سناریوګانې پلي کړئ، یا غوره به دا وي چې په خپله داسې سناریوګانې جوړې کړئ چې په هغو شرایطو/ځای کې له رښتینو بېلګو سره اړخ ولګوي چېرې چې تاسو یاست. د سناریوګانو د جوړولو پر مهال وراندیز دا دی چې لنډې سناریوګانې ساده او دقیقې وي په داسې حال کې چې په رښتینو خبرو اترو کې د ګډونوالو لپاره کافي معلومات وړاندې کوي.]

### لومړۍ سناریو. خاوند مې ورک دی

ستاسو خاوند درې ورځې مخکې کار ته پر لار لادرکه شو – هغه مېوه پلورونکی دی. په هغه سیمه کې چې تاسو اوسېږئ، ملېشې هم فعالیت کوي او د نورو ورځو په څېر په هغه سهار هم تاسو د ډزو غږ واورېد. تاسو له یوه ګاونډي څخه اورئ چې په هغه سهار چې ستاسو خاوند ورک شو یوې ملېشې – فلانۍ ملېشې – ځینې سړي په زور خپلو لیکو ته له ځان سره یوړل.

### دویمه سناریو. ولې زما نوم په نوملړ کې نشته؟

تاسو ډېر خپه یئ خکه چې ستاسو له یوه ګاونډي سره یوه نادولتي سازمان مالي مرسته کړې او له تاسو سره مرسته نه ده شوې. له تاسو سره د یوه نادولتي سازمان یا ملګرو ملتونو اړوند یو کس مرکه کړې مګر له هغه کس څخه مو ځواب نه دی ترلاسه کړی او له ستاسو څخه هغه نادولتي سازمان هېر شوی څکه دوی ټول یو شان دي. ستاسو او ستاسو د ګاونډي وضعیت یو شان دی- ورځني مزدوران یاست، کورنۍ مو لویې دي... – او تاسو نه پوهېږئ چې له تاسو سره ولې تراوسه مرسته نه ده شوې. تاسو اورېدلي چې که چا ته پیسې ورکړئ په سملاسي توګه به له هغې نادولتي سازمان څخه مرسته ترلاسه کړئ.

### درېیمه سناریو. زه مې خپل ماشومان نه شم ساتلی او اوس بیا کرونا وېروس راغی

تاسو څلور ماشومان لرئ او خاوند نه لرئ او د ماشومانو ساتل مو درته ناممکن دي. تاسو عمومي بازار ته راځئ او د نادولتي سازمان اړوند یو کس وینئ او غواړئ چې نردې ورشئ. تاسو په یوه کلي کې ژوند کوئ چېرې چې تاسو فکر کوئ، د هغو معلوماتو پر بنسټ چې تاسو یې لرئ، د کرونا وېروس ځینې پېښې شته – تاسو په واقعیت کې د کووېډ-۱۹ په اړه ډېر نه پوهېږئ. په وروستیو ۳-۲ اونیو کې تاسو ته د اساسي توکو ترلاسه کول خورا ستونزمن شوي څکه سوداګر او پلورونکي ډېر کلي ته نه راځي – تېره اونۍ یوازې څو تنه یو ځل دا سوداګر او پلورونکي راغلل څکه ډارېږي. سربېره پر دې، د لومړني توکي ورځ تربلې ګران کېږي.

### څلورمه سناریو. لطفا اوبه راورسوئ!

تاسو قومي مشر یاست چې غواړئ د ښار په څنډه کې خپل ګاونډ ته اوبه راورسوئ – دا یوه نارسمي او بې نقشې سیمه ده چې ښاروالي یې په رسمیت نه پېژني. خلک اوس مهال د څښاک اوبه ډېرې په سختۍ ترلاسه کوي مګر د کووېډ-۱۹ پر وړاندې د حفظ الصحې د ساتنې لپاره په هېڅ توګه بسنه نه کوي. تاسو بختور یاست څکه د څمکې لاندې اوبو د را ایستلو لپاره واټر پمپ لرئ مګر ستاسو په ګاونډ کې خلک واټر پمپ نه لري. د اوبو کیفیت ښه نه دی او ستاسو په ګاونډ کې ځینې خلک ناروغان کېږي. تاسو نه پوهېږئ چې د دې خلکو د ناروغۍ لامل کووېډ-۱۹ دی که خرابې اوبه.